# څوپه زړه پوری غزلي

## دمینی راز

ما دستا دمینی راز پټ په زړه کی وه ساتلي
په ویلو چي قهر نشی څه می تا ته نه ویلي
نورمي زغم پاتی نه دي مخا مخ درته وایم
چي دستاتورسترګي له ګوګله مي زړه وړلي
دی کی ځما څه ګناه دی چي پرتا مین شوی
چي ستا غشی د با نو په سینه می لګيد لي
اوس می خواته راځه چي درمل می شي تپونه
ما«مل» تا پسی جا نا ن زړه لا مخکی بايللی

** جرمنی ۲۰۲۱-۰۸-۲۳

## زنده یی

ته بی حده ښایسته یی ، په ټول ښکلو بي جوړه يي
لښته اونه ، سره لبان ، غنم رنګه ما لګينه یی
توری زلفي دی ولول لنډ دی کړی تور وربل
له نظر دی خداي وسا تی بيا ځما کله ميلمه یی
په کاجل دی سترګی توري مخا مخ چي راته ګوري
ستابوسی ته می زړه کیږی شوندی ډيردی خوږه یی
داچي زه له تا ځاريږم ستا حسن او جما ل دي
بی مثا ل او بی جوړه بی نظیره او نا زدانه یی
کاشکی «مل» سره آشنا شی چي دي وکړي نوکری

چا سره مینه نکړی تر هغه چي ته زنده یی

** جرمنی 2017-08-23

## مالداره انجلۍ

ته مي خوښيږی خوښ می وساته خالداره انجلۍ
زه هم د تا سره ایلبند ته ځم مالداره انجلۍ
مزل کی دواړو به کیسی د تودي مینی وکړو
زه به دی ناز په لیمو واخلمه خما ره انجلۍ
ستا د پیکی تا زه نسیم به می په مخ وچلی
عطر د زلفو دی تازه می کړی عطا ره انجلۍ
د سیند په غا ړه سره دواړه راز اونیا زوکړو
یو بل ته وګورو په مینه ، مینه یا ره انجلۍ
ستا په وربل به «مل» کیږدی د غاټول ګلونه
ته به راوخاندی په نا ز ښا یسته رخساره انجلۍ

**جرمنی 2017-08-24

## ګلعذار

په ژوند نشته اعتبا ر ، جفا مکوه نګار
بس دی مه مي سوځوه د بیلتون په سورانګار
مینه وکړه په اخلاص ،باسه زړه نه می واسواس
بی د ستا د یا رانی نه ، نه لرم بل کوم دلدار
څه چي وایي تول منم له تا مخ نه ګرځوم
مخ له ما مه ګرځوه په لمسون د اغیار
چي یواځی شم بی تا ځم ډوبيږم په ځُرتونو
هرشیبه مي را یادیږي ستا نری ښا یسته رخسار

په دیدن دی«مل» که موږیارانی ورسره سازکړه
آرمانونه یی پوره که نا زنینه ګلعذار
**جرمنی 24-08-2017

## په مزی کوه

ما ته د مینی او محبت خوږی قصی کوه
انداز د سترګو په ډیر نا ز اوپه نخري کوه
په دواړوسترګورا ته ځیرشه چي بیلتون مي هیر شي
په ادا د سترګو سره ما ته وعدی وکوه
بیا په ا نتظا ر د خپل وصا ل نور می مه کیښینوه
د سترګو جنګ را سره ډیر له نژدی وکوه
ستا په د ید ن باندي د (مل) سترګي نه مړیږي
رانژدی کیږه مي په ښنګ په مزی وکوه
** جرمنی 24-08-2017

## یادونه

را مي یادیږی د خپل کلی هر کنج او کنا ر
چي د یا ر نوم می لیکل په ډ ډ د چنا ر
ها چي منګي یی په اوږه له ګودره راتله
ما چي ایستلی انتظا ریی دګودر په لار
بیا چي هغی تر سترګو لاندی راته پټ کتل
په تورورېل کی یی چي ایښی وه د ګلو قطار
چي می سلام ورته کول ها په نخرو یی منل
حیا په سترګو په خولویي چي لمده وه عذار

هغه یادونه یادوی می د ځواني وختونه
چي اوس را یاد شی له ما وړی صبر وقرار
ها د جانان زلفی ولول خما ری سترګي
(مل) به هیر نکړي هیڅکله خپله ښکلی نګار

** جرمنی 25-08-2017

## ریښتیانی مینه

چي پرتا مي مینه راغي اراده وه له ما تلي
چي تا ما ته هغه وخت په نخرو نخرو کتلي
پسرلي وه په چمن کي د بلبو چیغه هاروه
خوږ نسیم ستا د زلفو ځما په خوا نرم چلید لي
ځما نظر چي پرتا شو ستا په شونډوکي مسکا شو
بیا پرځا ن پوه شوی نه یم چي له حاله یم وتلي
تصور کی مي لیدل چي ته ځما خیا ل ساتي
چي مي واړول سترګی ستا په غیرکی اوم ولویدلي
زړه بایلل د (مل) تا ته بی ګما نه ریښتیا ني دي
اوس پر ما د کلي خلک له یوسره پوهيد لي

** جرمنی 26-08-2017

# هیله

مرګیه دومره پریږده چي دجانان کلی ته ورشم
دزړه حا ل ورته ووایم له حا له یي خبر شم
هغه چي می خبر نه اخلی زړه یي دی د کا نو
نو زه ولی د هغی له مینی زر لاس پرسر شم

د چا چي ګل خوښيږی داغزی منت يی ګا لي
بيازه چي اوس په مينه که مليار دخپل دلبر شم
افسوس ځما پرحا ل چي په مينه يی ناکام شم
دهغی په بيلتون کي«مل» رنځوراودرپه درشم
**
جرمنی 2017-08-27

## رغبت

ما دی په سترګو کی مينی ته رغبت ولوستل
په ځير کتو سره دی ځا نته مي الفت ولوستل
خوږی خبری سره نور دی له مخ وريدل
په جنګ دسترګو دی مي مينه او محبت ولوستل
ستا په ادا او کرشمو کي کرکه ځای نه لري
په اشا رو ستا می عشق او صميميت ولوستل
تندی دی پراخه خوله خندا بيګا نه له کرکه
ستا د نخرو سره ښکلا او مرووت ولوستل
په رمنده سترګی دی مينه طغيا نی ښکاريده
ستاپه اراده کي ما«مل»عشق ته صداقت ولوستل
**
جرمنی 2017-08-28

## ناکامه مينه

ناکامه مينه می مجنون په رنګ صحرا ته کاږي
بی حا ل له ځان خيری ګريوان بيلتون ژړا ته کاږي
د مينی خواست مي د آشنا له خوا هيڅ نشو قبول
د هغی نادودی می ناهيلی هری خواته کاږی
زړه له فرما نه می وتلی نه منی نصيحت

جفا د هغی مي له روزګاره اوس بيد يا ته کاږي
کا شکی دهغی په سيند د ميني ولويد لي نه وای
اوس په حسرت د هغی ديدار «مل» واويلا ته کاږي
**
جرمنی 2017-08-29

## عطر افشان وه

نري نري باران وه په وريځو پټ آسمان وه
وعده مو په دالان وه لمده د يا ر زلفان وه
کميس يی ململين وه املايی کمرچين وه
انغښتی يی په ځا ن وه سينی يی عريان وه
له عقله پردی کړم بی بنګه ليونی کړم
نژدی چي شو ما ته رغبت يی په چشمان وه
هوا د نوبها ر وه تول بڼ ګل ګلزاروه
نسيم نرم چليد له آواز د بلبلان وه
چمن کی د مرغا نو نغمی او چيغيها ر وه
آشنا په تور وربل کی تومبلي سره ګلان وه
ځوانی مستانګی وه دوستي«مل»يک رنګي وه
هغه وختونه تير شو فضا چي عطر افشا ن وه
**
جرمنی 2017-08-31

## دمينی منيره

بی توله می خوښيږي د ښکلو اميره
چي ستا د زلفودام کی يم شوی اسيره
*
وربل چي دی کړ پورته هرخوا رڼا رڼا شو

جذ به ستا د مینی ځما په زړه پیدا شو
دستا دعشق په لار کی یم شوی اوس شهیره
چې ستا د زلفو دام کی یم شوی اسیره
*
پرون می هیڅ پام نه وه چې تا راته کتله
چرتُونو کی او ډوب ما تا چې ولیدله
چې ودی نه وینمه تول ورځ اوسم د لګیره
چې ستا د زلفو دام کی یم شوی اسیره
*
د ستا په مینه تلی له ما شرم وحیا
ها څه چې درته وایم هیڅ نه دی ریا
ته د«مل» د ترږمی په لار کی یی منیره
چې ستا د زلفو دام کی یم شوی اسیره
**
جرمنی 2017-09-01

# څه ولیکم

د زړه په تل کې بی د ستا د مینی څه ولیکم ؟
له خاطرو دی می د زړه په خونې څه ولیکم ؟
مینه دی هومره می د زړه په تل کی ننوتې
چې بی د ستا د نرې لښتی ونی څه ولیکم ؟
ما ستا دسترګوپه هنداره کې خپل ځا ن لید لې
بی ستا د حسن اوجما ل نه ګڼی څه ولیکم ؟
لیکم چې ته وا لله د «مل» ډیر خوښیږی

بی ستا د مینی او محبت له هیلی څه ولیکم؟

**

جرمنی 2017-09-03

# ارمان

له ډیر وخته پخوا په زړه کي مي ارمان دي
دیدار او مرکی له نژدی می دجانان دي

*

له سترګو مي خوب تللی تر له شپه یمه بیدار
له خپل حا له وتلی یم ډیر ناقرار
هرچا ته می د مینی قصه لوڅ اوعیان دي
دیدار او مرکي له نژدی مي دجا نا ن دي

*

بی بنګه مستا نه ننوات مي نه مني
په مخه چي مي را شي مخ شا ته اړوی
دهغی له نادودی سترګی تل می په ګریان دي
دیدار او مرکی له نژدی مي د جا نا ن دي

*

پروا ځما نه سا تي مغرور دي په جما ل خپل
په زړه مي اور بل کړی دنازونو په کمال خپل
د«مل» دسترګو اوښکي جاری په ګریوان دي
دیدار او مرکي له نژدی می د جا نا ن دي

**

جرمنی 2017-09-05

## لیده کاته

چي څه دی په زړه ګرځي وایه ما ته آشنا

نژدی می څنګ ته راشه مخ مه اړوه له ما
*

په تل کی مي دزړه مینه ستا ځای نیولي
پرما چي دی نظر له کوم وخته ولوید لي
څما مینه د تا سره آ شنا دي له پخوا
نژدی مي څنګ ته راشه مخ مه اړوه له ما
*

په شونډو دی مسکا چي کله را پیدا شي
دزړه دزخمونو می هغه وخت دوا شی
دا څکه چي بي ستا د مینی نه لرم ادعا
نژدی مي څنګ ته راشه مخ مه اړوه له ما
*

د ستا په مینه ما کوتاهی خو نه دی کړي
چي تا څه نا ز کړي په لیمو ما منلي
له تا می هیله داد ی چي «مل» مکړه بینوا
نژدی مي څنګ ته راشه مخ مه اړوه له ما
**

جرمنی 2017-09-05